آصف بهاند

۲۰۱۹/۰۸/۲۲

# د شهنواز باقر د شعر په بڼ کي

## شپېرمه برخه

د ۲۰۱۵ کال د سپتمبر په لومړۍ نیټه په فیسبوک کي د دانشمند دوست، انجنیر زهیر شینواري له برکته، د ښاغلي شاه نواز باقر له دې شعر سره مخ شوم:

چي مي پـه کار و، په نوم کانی پـه چینه کي نـه و
په دغه ښار کــي زړه د هیـڅا پـه سینه کي نـه و

سترګي مي وباستي له ځانه، ځان مي ولید پــه کي
ستا ملاقات تـه تـلـم روغ ځــای پـه ایینه کي نـه و

ای مشره! تــاسي د تــوپک تــخـم کــرلــی ولـي؟
ای مشره! دا قلـم پــه تــېره زمـانــه کي نــه و؟

یــووهَ مــاشوم به شرنګولي خلک حـیـران و ورتـه
سیکي پکي وي خـو، سوری په خـزانه کي نه و

بــاقره! داسـي بــي ارزښتــه زنــدګي تــېــرېــده
چي هیڅ کـردار د چا د ژونـد په افسانه کي نـه و

شعر زما له پاره په زړه پوري و. ځو ځلي مي ولوست. نور شعر یوې خوا ته، دا یوه پوښتنه چي د شعر په یوه بیت کي مطرح شوې ده جدي او د ځواب غوښتونکي ده.
یوه خبره چي د اوسني وخت او اوسني نسل له پاره ډېره جدي ده هغه دا ده چي باید اوسنی نسل دومره چي د تیرو نسلونو په کړنو وياړي او دا مشران هم ځانونه واجب الاحترام ګڼي، همدومره باید د مسولیت احساس هم وکړي او د خپلو کړنو ځواب و وایي. زه خپله هیڅ د دې پلوی نه یم چي ځوک و وایي:

«ځه ځي کوي، تیر په هیره»

نه باید هر ځوک او هر نسل د خپل وخت او کړنو ځواب ولري، په تیره هغه ځوک چي له نوي نسل نه د درناوي هیله لري.
اوس د دې شاعر دغي مطرح کړې پوښتني ته ځوک ځواب ویلای شي:

ای مشره! تاسي د توپک تخم کرلی ولي؟
ای مشره! دا قلم په تېره زمانه کي نــه و؟


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په ځیر و لولئ

که څوک غواړي که يې نه غواړي، نوی نسل حق لري چې دا او دې ته ورته پوښتنې مطرح کړي په تيره له هغه چا نه چې له نوي نسل نه د بې اندازې درناوي اميد کوي.
د نورو هيوادونو مشرانو په خپل وخت کې د خپلو خلکو او وطن د پرمختګ، آبادۍ او پوهيدنې په موخه زدکړه، کار او مطالعه کړې ده، زموږ مشرانو او تير نسل يوازې هغه کارونه کړي دي چې د زدکړې او توليد نښه او اميد په کې نه ښکاري. يا پيتاوي ته ناست دي، يا يې زرګان او سپې جنګولي دي، يا يې د تربره د وژلو له پاره وسله کارولې ده او تر ټولو بده لا دا چې د همدې وسلې د کارولو او انسان وژنې او ورور وژنې زړې يې د نوي نسل د ذهن په کرونده کې کرلی دی.
د دې خبرو له يادولو او د دې کرښو له ليکلو نه زما اصلي موخه د نوي نسل د روزلو په سلسله کې په سم لوري د هغوی لارښوونه، زموږ په کلتور کې د نا وړو دودونو د له منځه وړلو له پاره د هڅو په لړ کې د يو بل ګام اوچتول دي.
زه د خپل عمر او د خپل نسل د يو مسوول قلموال په توګه د اوسني او راتلونکو نسلونو د روزلو په موخه دا خپله دنده او مسووليت ګڼم چې پر ټولنه باندې د حاکمو منفي دودونو پر ضد غږ جګ کړم او د حل مثبتې لارې چارې ور ته په ښه کړم.
آيا په رښتيا په تيرو زمانو کې قلم نه و چې زموږ پخوانيو يوازې ټوپک ته لاس ور تيراوه؟ که رښتيا قلم نه و او يوازې ټوپک و، نو دا نورو خلکو د ليکلو او د خپلو بچو د باسواده کولو له پاره څه شی کارول؟
نه، قلم و،
خو موږ د قلم پر ځای ټوپک انتخاب کړ او د ليک لوست او نقاشۍ پر ځای مو بيا ټوپک، ډزې، وژل او وينې تويول انتخاب کړل. اوس دغه نسل بايد دې ته ملا وتړي چې اوسنيو او راتلونکو نسلونو ته د ټوپک پر ځای قلم او د مرګ په ځای ژوند ور وښيي، که نه وي نو د بيسوادۍ او جهالت د وزرو له لا غړيدو نه به مو ښځې د قرآن د آيت پر ځای په لمانځه کې د ميړونو او ليورونو نومونه يادوي او د « إِنَّكَ حَمِيدٌ مَجِيدٌ» پر ځای به «إنک لکه دی لکه لالک» وايي.
نور بيا


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ